# خوږې خبرې

## لنډکي شعرونه او ادبي ټوټې

ليکوال: محمود حميدزی

Ketabton.com



(c) ketabton.com: The Digital Library

بسم الله الرحمن الرحيم

(c) ketabton.com: The Digital Library

# دکتاب پیژندپانه

نوم: خوږې خبرې
لیکوال: محمود حمیدزی
ټایپ او ډیزاین:محمود حمیدزی
دپوښتی ډیزاین: مسلم اڅکزی
دخپریدونیټه:۱۴۰۳ه ل

دلیکوال خپاره سوي اثار:

**۱په سمندر کی دملغلرو لټون**

**ټولنیزې ستونزې او دحل لارې یې**

**دفکرونوجوړښت اوهغوئ ته وده ورکول**

**۲روڼ سیند**

**لومړۍشعرې ټولګه**

**۳ په کایناتو کی دقرآنکریم علمی معجزې**

**(د ذرو څخه درکهکشانونو د اللهﷻ مخلوقات)**

**۴(دانسان په بدن کی دقرآن کریم علمی معجزې)**

**(دانسان دبن دحجرو څخه درنسجونو دنسجونو څخه درغړو دغړو څخه دربدن پورې: هراړخیز طبی مالومات او دعقیدې دلا کروړ کولو درسونه)**

**۵دالماسو پنډ**

**(دیښتومتلونو د ویلوځایونه اوعلتونه)**

(c) ketabton.com: The Digital Library

۶ژور اندونه

(دویمه شعري ټولګه)

۷په ژوند کی دبریالیتوب 50رازونه

۸ښنګه ژوند وکړو

(دنړۍ دپوهانو او بریالیو وګړو دسلګونوویناوو ژباړې)

۹خوږې خبرې

(لنډکی شعرونه او ادبی ټوټی)

۱۰ننګوونکی پوښتنی اوځوابونه

(سلګونه طبی،ساینسی،جغرفیوي، بیولوژیکی،ذهنی او ټولنیزې پوښتنی)

(c) ketabton.com: The Digital Library

# دليکوال خبرې

دې کتاب کي په ادبې ژبه دژوند ځينې خوږې اوترخې ځيني لاربښوونې سوي دي دا چي ځيني نازک الفاظ شتون پکښې لري هيله ده اند،فکر ونه کړئ چي فحشا ته مورابولم ژور اند وکړئ دې کتاب کي هيڅ دفحشا اوبربنډ څه نسته بلکي دلته ماهڅه کړي چي وګړي سيده لارې ته را وبولم!

دا زما هغه اندونه دی چي دکلونو په اوږدو کي مي ليکلی اوستاسو درنو لوستونکو د ادبی تندې دخړوبولو لپاره مي په دې کوچنۍ ټولګه کي راټول او خپاره کړل!

په درنښت محمود

**يادونه:ددې کتاب دچاب حقوق دليکوال سره خوندي دي،دکتاب همدا پي ډي ايف بڼه بيله بدلونه هرڅوک خپرولی سي دچاپ اوبدلون حق يې څوک نه لري!**

(c) ketabton.com: The Digital Library



اى کاش هرشيبه مي، ستا خواته کتلى
او ستا دښکلا دليدو څخه برخمن واى،
ستا څخه مي دبريا او ناپاينه ژوند خبرې اوريداى.....
او په خيالونو کي د دې نه پاتي کيدونکي ځان،روح
او نړۍ څخه ډېر ليري تللى واى!

***

موږ هله خپلې هيلې د لتې په پړې په غاړه را وځړو کله چې هوډونه مو د ويرونکو توپانونو د ليدلو له کبله وبيريږي،وډار سي.
هغه وخت زموږ خاورين وجود:
دمځکې سره خپل ارتې مينه پيل کړي او نه غواړي دهغې د راکښوونکي ځواک پروړاندي ودريږي، تل غواړي مځکه لمس کړي او د خوځښت تکل نه کوي، دا چار ددې لامل سي چي موږ مات سو، ولويږو او دوګړو دسترګو څخه خورا ټيټ مالوم سو،موږ دخپل پيدا کوونکي نا خوښي وموندو او نه سو کولى دخپل اري دندې لپاره کړنې سره وپېيو، نا خبره سو او شيبې مو دلانورو خواشينوونکو شيبو د را رسيدا منتظري سي!
هووو: موږ بايد خپلې هيلې ونه وژنو،
همدا دهيلو ژوندي ساتل دي چي: موږ دهسک لورته را بولي!!!!
دلويې هيلې دپورکيدا زيرى راکوي او که هغه زيرى رښتياهم موږ ته ستر او ښکلى مالوم سي، موږ به هيڅکله په خپل تل پاتي هڅوکي مځکه ښکل نه کړو،
خوځنده به يوو....

(c) ketabton.com: The Digital Library




ناخبر به نه یوو....

ټیټ به نه یوو....

خوښې به وموندو......

خپله اره دنده به په ښه ډول سرته ورسوو•••••••••••



(c) ketabton.com: The Digital Library



کله چي موږ دخپلو موخو لورته مزل کوو:
دتیاروشپو،
مستوسیندونو،
بې مهاره توپانونو،
سوځوونکي لمر او اغزونو لارو څخه تیریږو:
زموږ موخې هم هیڅکله دومره مغرورې اوبې وفا نه دي چي
زموږ ستړیاوي اوزحمتونه بابېزي وګڼي
او زموږ سره دیدن کولو ته هغه وخت سوبې نه سي چي موږ
هغوئ ته درسیدا په پار رښتني هیله کړي وي!!!!



(c) ketabton.com: The Digital Library



ښه نوبريمن هغه وګڼي دي چې :دځوانۍ نشه يې وزغمل او خپل هوښ يې پکښې دلاسه ورنه کړ!
''''''''''''''''''''''''''''''''''''''''''''''''''''''''''''''''''''''''''''''''''''''''''''''''''''''''''''''''''''''''''''''''''

ستا!!!!
دخوږو يادونو وږمې دزړه بڼ ته نه پايانه خوښۍ راوړي!

**************************************************

کله چي زړه مې دنړۍ دناپاکيو دګرد څخه پريمان سي: ستا په پاکوونکی اوپاک نوم باندي يې پريولم!!!!
''''''''''''''''''''''''''''''''''''''''''''''''''''''''''''''''''''''''''''''''''''''''''''''''''''''''''''''''''''''''''''''''''

دزړه ارام ستا په يادونوکي نغښتی دی!!!!
هغه زړونه سکون نه لري چي:
ستا دښکلاګانوڅخه مخ واړوي!
''''''''''''''''''''''''''''''''''''''''''''''''''''''''''''''''''''''''''''''''''''''''''''''''''''''''''''''''''''''''''''''''''

مرګ دازموينې ورستۍ ورځ ده دهغه ورسته يا تل پاتي بريا يا تل پاتي ماته پيليږي؛خوځيني بختور دي دماتې ورسته بريالي سي!
**************************************************

زه دهغو ورځو په هيله او اميد ژوند تيروم کومې ورځې چي :

ستا خواکي ستا در نظر لاندي و اوسيږم!!!!

(c) ketabton.com: The Digital Library



ژوند دلویو هیلو دپوره والي لپاره بس نه دئ:
ژوند یوازي هغه ازموینه ده چي بریالي به یې خپلو تولو هیلوته ورسیږي!

دلته درنو ستورو رڼا څوک نه وینې .
وګوره ستوري تولـه شپه انتظارکوي ځان سوځوي چي وګړي هغوئ ووینې،
دهغوئ سربښندنه درک کړي، خو خلګ دهغوئ په درک اولیدلو کي سوستې کوي ځانته دومره تکلیف نه ورکوي چي یؤار خپلې سترګې دهسک لورته کړي کړي زه حیران یم دکمزوري وجود لرونکي دغه وګړي ولې هسک ته نه ګوري؟ ولې غرور کوي؟
په داسي حال کي چي دهغوی زړونه د کمزوري وړتیا لرونکي دي چي دهغې په نشتون،
دوئ دخپل کوچنۍ برخې پرته دتل لپاره په هغه ګرد بدلیږي چي ذرې یې دنړۍ په تولو برخو ویشل کیدلی سي،
افسوس... دا څومره بده ده :یؤکمزوری څنګه دومره جورت وکړي!

(c) ketabton.com: The Digital Library



دخپل عقل دمزي دکروړ کولو په پار،دمرغانو دخولو څخه ستا دستاینې دزمزمو داوریدلو ِحس ته تم یم،
هیله لرم دهغوی دهر ویی په مانا ځان پوه کړم اوستاسره دمینې کولو په هڅه کي وړاندې لاړ سم!!!!



(c) ketabton.com: The Digital Library



دزلفو په تارونو کي مه بندیږه:
بلکي زړه او سترګي دي باید
دپوهې په پیچلو، کږو وږو لارو کي بندي پاته سي،

که په زلفوکي دي زړه بندسو ستامینه پوهه به خپه سي،
دانو بده ده چي د دوو ژوندونونوخوښۍ کیدای سي په یؤې بدله کړي،
که د پوهې پرزلفو مئین او دکتاب پر مخ دي زړه بایلوئ:
هله به دي سترګي دباز په شان لیدونکي او زړه به دي دزمري په شان پیاوړی سي، هووو
مه ښکار کیږه،ښکار وکړه د هغو وییونو ښکار چي توري یې ښکار کړي وي،
داسي به ته ورورو دجملو او دپوهې دسمندر دلویو ښکار کوونکو په ډله کي تاج داره ښکاري سي!

........................................................................
........................................................................

په نړۍ کې دبریا هیڅ لوری نسته بیله هغه سمت څخه چي:
ستا لور ته تللی!
موږ به هله بریالي سو چي:
ستا لور ته ستا پر قدمونو،
ستا پر ښوول سوې لار ګړندې ګامونه واخلو،
ستا منزل ته رسیدل دناپاینه خوښیو، نه خلا صیدونکو نیکمرغیو او نه بیانېدونکي ښکلا، وخت،شیببې او لیدل دي

انسان ستړی سي ددې هرڅه څخه ځینې وخت مې نه پوهیږم

(c) ketabton.com: The Digital Library



کله کله مي شعور، درک،ذهن،تجربه وسواس،
غماز او که زړه ووايي: بس دئ!
نور هيڅ قلم مه را اخله ولې ځان ستړی کوي، ولې دهغو
خلګو لپاره چي تل غواړي بيده پاته سي دخوبه د راکښينستلو
چيغې او ناري وهي!
ولې خپل ډېروخت دهغوئ لپاره لګوي:
حال داچي ته خپل چاري لري چي هغه بايد سرته ورسوي،
ولې تل دهغو وييونو په پيلو او دښکلو اميلونو په جوړولو
بوخت يې چي راغونډول او پيېل يې ستا دوريښتانو يؤ يؤ
ژونکی کمزوری کوي او په مغزو کي دي شور جوړوي، آيا دا
وګړي په دي هرڅه ارزي؟
آيا دوئ تا درکولی سي؟آيادوئ ستا پيلي اميلونه په رښتيا هم
ليدلی او ښکلا يې حسوالی سي؟
بيا خپل ځان ته خپل ځواب ورکړم او ووايم: کيدای سي ستا
دپيول سو ملغلرو اميلونه کوم ښکلی په غاړه کړي او ښکلايي
ور ډېر کړي؛ هغه دښکللو په ټولۍ کي لا نور هم ښکلی مالوم
سي او د په غاړه کړي اميل دملغلرو په رڼا باندي په تيارو کي
لار ومومندي!
ياهم د غوټيو څخه ښکلي ګلونه وټوکيږي او نورو ګلونه وپالي
دا چار غوره دئ ځان ستړی کړه او لاهم نور دپوهې په سمندر
کي غوټې ووهه، ملغلرې ومونده او دبريا په تار کي ځلانده او
روښانه ملغلرې وپيوه، دا چار ښکلی دئ او کيدای سي تا او
نورو ته دنړيو دخوښيو لامل سي!

(c) ketabton.com: The Digital Library



لیکواله او شاعر ته!
کله چي غواړي پاشلي ملغلرې په لمن کي راټولې کړې او بیا ښکلي امیلونه تري جوړ کړي،پام دي وي چي:
دملغلرو ځلا دشهوتونو دسمندر په اوبو پري نه ولي!
دغه ښکلی پیبل سوی امیل د مادیاتو او امتیازاتو دبنۍ دخولې د اور لورته مه ورنیژدي کوه،ترڅو تل پاتي والي ته یې زیان ورسیږي!
خپل دملغلرو امیل ته دي درښتیا کروړ مزی ور واچوه، دنړیو دژوند دسیند په ابو یې پریوللی، دستورو په رڼا ځلیدلی ښکلی پریږده
ترڅو غوټۍ پري ګلونه ونیسي او ښکلي یې په غاړه کړي



(c) ketabton.com: The Digital Library



ای کاش کیدلی سوای چي ستاسره مي یؤځل لیدلي وای...
یؤازي یؤځل او دکلونو دفراق لمبې مې ستا دښکلا د ارام
بخښونکو وړانګو،
په درک کولو مړي او دوصال خوږې شیبې مې د حِسونو هره
برخه په داسي خوځښت را وستلي وای چي :
هغه خوځښت په بل هیڅ موجود باندي هومره شور نه
جوړوي!!!!
ای کاش کیدلی سوای ستا خوږې خبرې مې ستا دخولې څخه
اوریدلي وای ترڅو،
دبدن هرې ذرې مې ستا دخبرو په اوریدا دهسک لورته الوتل
پیل کړي وای او هغه ځای پوري یې رسولي وای چي نور
مخته ته تلل دځان سوځل دي او دهغو په اوریدو بلکي لکه لیدو
باندي یې دنړۍ دخوښیو په اړه پوره پوهه لاسته راوړي
وای!!!!



(c) ketabton.com: The Digital Library



ښکلا دي تعریف نه لري:
ستاښکلا دلمر دځلا څخه ډېر ځلانده!
دسپوږمې د راغبرګي سوي رڼا څخه ډېره ارام بخښونکي!
دګلونو دوږمو څخه ډېره خوږه، دسهار دنسیم څخه ډېره خوښي ورکوونکي ده!!!!

:::::::::::::::::::::::::::::::::::::::::::::::::::::::::::::::::::::::::::::::::

هرشپه مې آندونه ستا په نوم اوخبرو یادولو خړوبوم اوهیله لرم چې خوب کې به ستا دښکلي مخه دښکلو وړانګو په لیدلو باندې سر لوړی سم!!!!



(c) ketabton.com: The Digital Library



زموږ بدیو ته درسیدا تنده....
دهغوئ دپاره دوخت بربادولو هیله.....
په هغوی کي دغوټه کیدلو شیبې.....
څومره ډېري بدې،زیان رسوونکی او ناکامه کوونکي دي!!!!
تنده به يې زموږ دتل پاتي تندې لامل سي!
وخت پري بربادول به موږ ته ناپایانه،نه زغمل کیدونکي او دتصور څخه پورته بد او زحمت کوونکي وختونه راکړي!!!!

که په هغوی کي غوټه سوو په سترو،ډېرو ویرونکو داسي تیارو کي به غوټه سو چي هيڅ رڼا به نه وي؛هیڅ ډاډ به نه وي او هیڅوک به مو نا اوریدل سوي، لعنتي کریږي وانه وري!!!

هو دا کریږي به دومره بدې وي چي هیڅ پیداکړل سوی به دهغوئ دکولو هیله ونه کړي!
دا تنده څومره به ده ده،
دا وخت بربادول څومره دزیان څخه ډک دئ او دا غوټه کیدل څومره سوځوونکي دي، هوووو
خورا ډېرررر .......... ډېررررر: سوځوونکي!!!!



(c) ketabton.com: The Digital Library



زه د بريښنا درناوى كوم:
همدا بريښنا ده چي زما دژوند د ډېريدا لپاره په بيا بيا غورځكى،جرقي وهې او نه پرېږدي دبدن واكمن مي دخپل چار څخه ستړى او بې پامه سي،
دبدن پاچا هيڅكله دا توان نه لري چي دبدن واكمن ته امر وكړي،
زما دبدن واكمن يؤازي ديؤه او بې سياله واكمن په امر خپله دنده درهغو مخته وړي، ترڅو امر ورته وسي نوربس دئ!
دده مزل درهمدې ځايه پوري وو!
نور دئ دلته ارزښت نه لري!
دئ بايد خپل لومړنې ځاى ته ستون سي هغه ځاى ته چي دده بنسټ دده څخه خورا ډېر وخت مخكي دهمدې ځايه پيل سوى وو!
دا به زما دبدن دواكمن زما سره وفا په ډاګه كړي، كه ده زما سره وفا كړي وه، رښتيا يې زما دپاره ښه او غوره ګڼلي وه زه به بريمن او سرلوړى سم، كه ده زما دستر دښمن او ستر احسان هيروونكى خبره منلي وه زه به دټولو بدبختو څخه لوى بدبخته يم، نا پاينه انتظار به ګالم،
نه تصور كيدونكى، لمر،تودوخه او تنده به ګالم،
دټولو ګلونو څخه ښكلى او ټول ګلونه به راڅخه مخ واړوي تنده به مي تنده پاته سي،
بري ليک به مې د نه ستايل سوي سمت څخه راته وړاندې سي،
هيڅكله به بيا ښاد نه سم!
هيڅ وخت به خوښې ونه موندم!

(c) ketabton.com: The Digital Library



هیڅکله به ښکلي ونه وینم!
وبه کوټل سم، وبه رټل سم، وبه ایشږم!
دا به نا پایانه دغمونو څخه ستر خورا ډېر ستر هومره ستر چي ددې ځای هیڅ غم او اندېښنه به ورته هیڅ،بیخې هیڅ مالومیږي!
هو دا زما دبدن په واکمن پر اړه لري چي ما چیري بیایي؛دستري ماتې لور ته او که دسیوري لاندي،دستري تودوخې په ورځ هوساینې، دخوږو اوبو د ویشوونکی په لاس د سترې تندي څخه دخلاصون دجام خوا ته،یا دبریښنا په شان د بیرونکي پله څخه دتیریدا لورته اوکه دستر ګل بڼ دګلونو سره د دیدن او دتل پاتي، هیڅکله نه خلاصیدونکي خوښۍ لورته!

زما بریښنا خوښه ده، همدا بریښنا ده چي زما دماتي او بریا لپاره په بیا بیا جرقي وهې او زما د چپه لوري غوښه په خوځښت را ولي، دا غوښه زما دبدن واکمنه ده،که دا بریالی سوه زه به بریالی سم، که دا دناکامۍ لورته ولاړه زه به ناکامه سم،
لاسونه کچکولوم او وایم چي:
زما دبدن واکمن دي کږي او دتیارو څخه ډک لورته نه ځي،
هوو...
تل دي دبریا لورته نېژدي کیږي او رڼاوي دي موندي!

(c) ketabton.com: The Digital Library

| خوړې | خبرې |
|---|---|
| هرلوستونکی پوه نه وي او نه هر لوستونکی دتیرایستونکي سمندر دتل ځخه د لاره ورکوونکو پوښتونو ځوابونه لري هيڅ سوال بې ځوابه نه دئ او هيڅ تير ايستونکی داسي سوال نه لري چي هغه دي درښا او بريا دعقيدو دخاوندانو پر عقيده باندي تور داغ وي او ځواب دي يې نه وي! بس دومره ده چي زموږ سره به دپوهې او رڼا دسمندر په تل، منځ يا حتا مخ کي دځواب دموندلو وړتيا نه وي! | |

::::::::::::::::::::::::::::::::::::::::::::::::::::::::::::::
::::::::::::::::::::::::::::::::::::::::::::::::::::::::::::::

موږ دپوهې مينوال يوو غواړو دپوهې په سمندر کي دژوند دبريا او راتلونکي دخوښيو ملغلرې وموندو!

هو...

زموږ مخته به سمندري توپانونه،سخت اورښتونه، نه زغمل کيدونکي تنده، سمندري داړونکي، لوږې ژوري احمق غماز راسي خو:

موږ به خپل دموندلو هڅو ته دوام ورکړو پري به نږدو چي زموږ مخته خنډونه زموږ هيلې را مړي او روح مو را ژبل کړي!

موږ کروړ هوډ کړی دبرياليتوبونو دموندلو هوډ!!!!

په راسته لاس دبري ليک دراخيستلو هوډ!!!!

دوير ونکی پله ځخه دبريښنا په شان تيريدلو هوډ،

دکب داينې دخوړولو کروړ هوډ

او موږ به خپل موخې ته رسيږو.

(c) ketabton.com: The Digital Library

| خوږې | خبرې |
|---|---|

هرورځ مو چي مو ستا په يادونه پيل سي،
خبرې درسره وکړو خبرې دي واورو موږ به ولې بدبخته سو؟
زموږ بريا ښکلا او راتلونکې ډوازي اوډوازي ستاسره په دوستۍ او تاته په سرټيټۍ کي نغاړل سوې دئ!!!!

..................................................................
..................................................................

کله چي تا تکل کړی وي چي ملغلرې وموندي ته به هغوئ ته هوسا ونه رسيږي..........
ساحل به لار کي اغزې درته وپاشي!
سمندر به دي دخپلو تو پانونو په څواک خبر کړي او وژونکي کبان به دي بدن زخمي کړي!!!!
که دي بيا هم دملغلرو موندلو هوډ کروړ وو او وړاندې تللي هله به ته بريالی سي او دسمندر دکلکوصدفونو دمنځ څخه به ملغلري په لاس راوړي!
لويو هيلوته په رسيدا او دلويو موخو دلاسته را وړلو په لار کي دردونه،غمونه او کړاونه هتمي دي!!!
بريا دهغو وګړو په برخه کيږي چي نه دريږي،نه بيريږي او نه ناهيلي کيږي!!!
بريا لاسته راوړل...
لويو موخو او هيلو ته رسيدل وخت،ستړيا او زحمت ته اړتيا لري!!!



(c) ketabton.com: The Digital Library



د ښه ملګري سره يؤه پياله چاوي د سيند په خواکي په ورين تندي څيښل او دژوند دخوښيو په اړه خبرې کول کيداى سي دژوند دخوښيو څخه يؤڅه برخه پر موږ ولور وي!

::::::::::::::::::::::::::::::::::::::::::::::::::::::::::::::::::::::::

موږ دخلګو مخونو ته ګورو نه دهغوئ چلند نيکو او اخلاقو ته!
دا څومره بده ده چي ښکلي ځان په اخلاقو نه ښکلي کوي!
دمخونو ښکلا تيرايستونکي ده، انسانان بايد ښکلي زړونه ولري!
ددې لپاره چي پرمخونو اوبه تيري کړو او په درملو يې سپين کړو:
خپل زړونه به دپوهې دکتاب غونډ په ترټولو رڼو اوبو پريولو ترڅو ټول بدن مو ښکلى او ځلا کوونکى سي، تل پاتى ځلا کوونکى!
درواغجنه ښکلا ډېره پيکه،ناپاينه او تير ايستونکى ده!
ښکلا داخلاقو په بڼ کي جوړه سوي، په پوهه کي نغاړل سوي او دپرهيزګارئ په عطرو معطره سوي جامه ده چي دهر بدنې ښکلي په برخه نه وي!
بريالي وګړي هغه دي چي رښتني ښکلي وي او رښتنې ښکلا دګلونو دپالونکي په خوښئ او دګلونو په بڼونو کي موندل کيږي!
هو همدا ښکلا ترټولو ښه او رښتني ښکلا ده!!!!

(c) ketabton.com: The Digital Library



د کوچنیو ذراتو،وړو زړونو،ډېروکوچنیو بدنونو خاوندان یوو خو: غرور مو دهسک څخه هم لوړدئ،درومو او دځان بربادۍ ته لارلنډوو!!!!

::::::::::::::::::::::::::::::::::::::::::::::::::::::::::::::::::::::::::::::::::::::::::::::::::::::::::::::::::::::::::::::::::::::::

کله چې موږ لوستونکي سو،
ګټونکي به سو!!!
لوستنه ده چې موږ دپوهې دسمندر په ناپایانه سفر
دهغو وګړو سره مخته بیایي چې زموږ څخه وړاندي دي او
زموږ څخه مخکي یې داښکلی او خوښي ورکوونکی سفر پیل
کړی وو!
راسئ ځانونه ته وزرونه واخلو، کتابونه زموږ وزرونه دي!



(c) ketabton.com: The Digital Library



زموږمخ ته یؤه ونه زرغونیږي چي په هغې کي دولس ګلونو موندو.
هر ګل دیرش پاڼې لري، دهرې پاڼې پنځه ډوله وږمې ځي، هره ډول خشبو یې زموږ روح،جسد او زړه ته خوښي او ښکلا بخښي!
که موږ دهغوئ د وږمو خورولو په وخت کي دهغوئ وږمي حس نه کړو: موږ ستر زیان کوونکي یوو، داسي زیان کوونکي چي هیڅ زیان هومره ستر نه دئ!!!
دتیارو او غمونو زیری راکوونکی زیان، دهغوئ دوږمو په سم نه حس کولو کي نغښتی دئ!

''''''''''''''''''''''''''''''''''''''''''''''''''''''''''''''''''''''''''''''''''''''''''''''''''''''''''''''''''''''''''


دتیاره ماښام څخه مي زدکړه وکړل، چوپتیا مي غوره کړه؛ځکه خومي ستوري خپل ملګري وموندل!!!



(c) ketabton.com: The Digital Library



تياره شپه؛ دشپوږمۍ را غبرګه سويه رڼا؛ځلاند
ستوري،خوږنسيم؛ بهاندي اوبه؛ امرمنونکي اورجوړي؛ښکلي
ونې؛ دنګ اوکروړ ميخ سوي غرونه؛ناخبره ژوي اوبې کبره
زرغونيدونکي،پراخه غيږه لرونکي!!!!
ټول يؤ څه وايي!!!!
هو يؤازي يؤڅه؛ستاستاينه!
دوئ مغروره نه دي په پوره چوپتيا خپلې ښکلا ګانې خوروي
او ښکلو ته سلامونه ليږي.
خودا ټولې ښکلاګانې هغه وخت زموږ لپاره هيڅ دي؛ ترهغو
چي موږ په ښکلاګانو کي ژور اندکوونکی نه سو، ځان په خپلو
ناتوانه او لږ مزل کوونکي اندونو کي ستا لپاره ورک نه
کړو،روح مو ستا پروړاندي خپل ځان ټيټ نه کړي،
زړه موغرور ونه سوځوي، مغزمو سيده لارونه موندي،سترګي
مو دبرياليک ته نه سي،دجام تنده مو هيره وي درټولو راته
ګران نه سي
اوزړه مو ستا خبرې درک نه کړي! موږ به در هغو سرلوړي
نه سو تر څو هره شيبه سرټيټي نه سو،هو رښتني سرټيټي!!!!



(c) ketabton.com: The Digital Library



روح مې دتيارو په منځ کي د لمنځه وړونکو وحشيانو په منځ کي ورک وو، دعقل پړي مي شکيدلي،ليدل مې تياره او اوريدل مې ويرونکي وه، يو ږغ مې واوريدئ...
ستادخبرو ږغ!!!!
ژغورونکي خبرې وي!
در نيژدي سوم:
عقل پړي مي کروړ سول،درښا ګانو ځلا مې سترګې راپرنيستلي غوړونو مې دبريا خبرې اوريدل پيل کړل، درښا ګانو سمندر ته ننوتم او وحشيان راڅخه په تيښته سول.
زه به درهغو ښاد يم ترڅو چي ستا خبرې اورم او د ګلونو دښکلي پر قدمونو دنيغې لاري سمت ته ستنيږم!



(c) ketabton.com: The Digital Library



حيرانوونکي ده!
ما دژوند خوښۍ دمرغانو په ږغونو،دزغونو ونو په ليدلو داوبو دنازک او خوښي ورکوونکي شور په درکولو او دخپل خالق په ياد کي وموندل،هو کله چي مې دناروغانو څخه دهغوئ دناروغيو په اړه واوريدل دشکر ږغ مې پر ژبه روان سو او بيله ناروغۍ مې دنړۍ دهرې شيبې درناوی کول پيل کړل!
::::::::::::::::::::::::::::::::::::::::::::::::::::::::::::::::::::::::
::::::::::::::::::::::::::::::::::::::::::::::::::::::::::::::::::::::::

نړۍ ښکلې ده ددې دومره ښکلا لامل يې ستا ښکلا ده!
ستا دښکلا ستاينه،يادونه او دهغې درناوی کول برياليتوب دئ!!!



(c) ketabton.com: The Digital Library



زه مې دخپل آند په هغه برخه کې په ذولنو تړلی یم،
کومه برخه کې چې: زما دژوند اوږده کیسه لیکلي سوي ده،
هو، دلته ماته ژوند هسک معلومیږی خو افسوس زه خبرنه یم
چې ،زما ژوند ډېر لنډ دئ اوهیڅکله دتل پاتې ژوندسره سمیدلی
نه سي، زه غولیدلی یم هوو....
ډېرغولیدلی!!!!

''''''''''''''''''''''''''''''''''''''''''''''''''''''''''''''''''''''''''''''''''''''''''''''''''''''''''''''''''

دمدو دي په یادونو کې داسي راګیر یم لکه په هسک کې چې
سپوږمۍ دستور په منځ کې را ګیره ده،
زه بختور یم چې ستا یادونه راته لا نوره ښکلا راکوي نه
پریږدي چې تیارو کې ورک سم ،خپله رڼا خورول ودروم او یؤ
بې ارزښته خاوره سم!
همدا ستا یادونه،تیري خبرې دي چې ماته یې ارزښت راکړی،
زه بختور یم چې تا لرم،ستا یادونه لرم،ستا خوږي خبرې
لوستلی سم،
انتظار کوم لانور انتظار، اندکوم لانور ژور اند،خیالوکې دي
ځان ډبوم ترڅو دسختو ورځو څخه بریمن درتا پوري ځان
دروررسوم او ستا په کتو مې دعمرونو ستړیا دتل لپاره ختمه
سي!



(c) ketabton.com: The Digital Library



زما ناچیزه خبرې،غزلونه،نظم اوشعرونه ستا په ستاینه پیل کیږي او ستا دښکلا په یادونه پای ته رسیږي، ومي بخښه!
زه پوهیږم چي زما لږ لیدل،ډېر کم اوریدل، ډېره لږه پوهه ستا ټولي ښکلاګاني نه سي لیدای،نه سي اوریدای او نه سي درک کوای....
ما وبخښه هیله کوم ومي بخښه،
خو زه غواړم یاد دي کړم او ستا خوښوته سلامونه ولیږم!!!!



(c) ketabton.com: The Digital Library



بریمن هغه وګړي دي چي دځوانۍ نشه یې وزغمل او خپل هوښ یې پکښي دلاسه ورنه کړ!

''''''''''''''''''''''''''''''''''''''''''''''''''''''''''''''''''''''''''''''''''''''''''''''''''''''''''''''''''''''''''''''''''''''''''''

ستا دخوږو یادونو وږمې دزړه بڼ ته ناپایانه خوښۍ راوړي!

''''''''''''''''''''''''''''''''''''''''''''''''''''''''''''''''''''''''''''''''''''''''''''''''''''''''''''''''''''''''''''''''''''''''''''

کله چي زړه مې دنړۍ دناپاکیو دګرد څخه پریمان سي ستا په پاکوونکی اوپاک نوم باندي یې پریولم!!!!
*****************************************************

دزړه ارام ستا په یادونوکي نغښتی دئ!
هغه زړونه سکون نه لري چي ستا دښکلاګانوڅخه مخ واړوي!!!!
************************

مرګ دروانې ازمویني ورستۍ ورځ ده دهغه ورسته یا تل پاتي بریا یا تل پاتی ماته پیلیږي، خوځیني بختوردي چي دماتې ورسته بریالي سي!

(c) ketabton.com: The Digital Library



دوږخي غماز هڅه کوي د اند پړي مي ستا ديادونو څڅه وشکوي،
زما او دده دښمنۍ تل پاتي ده زه به دې يادونه کوم او د ستاينو په سمندر کي به دې غوټې وهم!
***

کلونه وکړيږو، دښو شپو او ورځو انتظار وکړو، خو لاسته څه راسي هغه شپې او ورځې چي زموږ،لپاره يې شتون تکرار وي، هغه ونې، هغه ګلونه، هغه غرونه، هغه سيندونه
وي اړينه ده اندوکړو:
آيا موږ تيروتلي خونه يؤو؟
زما ورځ، شپه او شېبې خو به چي موږ ته تکراري مالوميږي،
راباندي په لټې نه تيريږي؟
دا خو به ددښمن تيرايستونکي دام نه وي چي موږ يې دښو شپو ورځو دراتلو په تمه تمه تيرايستلي يوو؟
هو دا دهغه دام دئ!
زما ورځ نن ده!
زما شپه هم دا نن ده!
په ستړې ازموينې کي دبريا لپاره ماته همدا شېبه راکول سوې ده!
هو همدا شېبه چي زه يې په لټۍ تيروم!
دغه زما دازموينې دتياري وخت دئ!
زما لپاره همدا شېبه ده!
دا لهظه دتل او تل لپاره زما لپاره نه تکراريږي!
زه بايد تيارى ونيسم!

(c) ketabton.com: The Digital Library

خوږې خبرې

دستري ناکامۍ او زما په مینځ کي باید نه ماتیدونکی کروړ دېوال وي!
زه باید دګلونو په منځ کي دمودو لمر وهلۍ ازغن بوټۍ پاته نه سم!
ماته هم باید،
دتاند کیدا په پار ژغورونکي اوبه راکول سي!



(c) ketabton.com: The Digital Library



دمدو سترې زړونه ستا په سکون ورکوونکو خبرو ارام مومي!
هغو چي لاره ورکه کړي وي لارموندي!
هغه چي هيلې يې مړې سوې وي بيايې هيلې راژوندۍکيږي!

ستا په خبرو کي دنړۍ ټولې رڼاګاني راغونډي سوي؛
هيڅ تياره دهغه چا مختته نسته کوم څوک چي
ستا خبرې خوښوي!
دزړه يې اورې!
دښکلا ډک وييؤنه دې تږي زړونه اوبوي!
بختور دي هغه وګړي چي:
تل دې خبرو څخه خبرې کوي!

**********

ولي ځانته دګلونو پرځای دزقوم ترخه بوټې خوښ کړو؟
ولي دتل پاتې رحت څخه تل پاتي زحمتونه غوره ګڼو؟
هو مور کولی سو دلته تخم وکرو:
دګلو يا ترخو زقومو.
هوساينه رانيسو يا زحمتوته.
مور دلته کښت کوونکي يو:
دښه تخم کرولو حاصل ښه او دبد تخم کرلو حاصل هم بد وي.
دغه ځای دماښيو،خوښيو،رحت موندلو او دهغوئ دلاسه ورکولو ځای دئ!
دا مور پوري اړه لري چي څه خوښوو
تل پاتې سکون يا تل پاتې کړاو!
نيکۍ موندل کيږي، بدۍ رانيول کيږي!

(c) ketabton.com: The Digital Library

خوږې خبرې

زموږ ژبه،اندونه،خوځښت،هڅې،زيار موږ ته يا خوښۍ راکوي يا غمونه!
ښه خوداده چي موږ د څو ژرتېريدونکو شېبو په خوښيو تير نه وځو
او دتل پاتيو نيکمرغيو او خوښيو دموندو په پار لږ وخت؛ډېر لږ وخت زحمت وباسو:
او تل پاتي برياليتوب ته ځان ورسوو!
*************

دتيږو په شان کلک زړونه لرونکي،
دوګړو پر دردونو نه دردېږي،
هغوئ هڅه کوي وګړو ته زيان ورسوي،
خپل داور پاشونکو خولو
او اغزي لرونکو لاسونو په مرسته:
د نرمو زړونو په ښکلې بدن کي نه رغيدونکي،کړونکي
اوداسي زخمونه جوړوي چي هغوئ دتل لپاره دردوي،و
زوروي او ځوکلوي،
خو ياد چار ددوئ په ګټه پای نه مومي!
دتيږو زړونو خاوندن بايد پوه واوسي چي
تيږې په کروړو فولادي ماتولونو ماتيږي
او ذري يې بيا داسي خورې ورې کيږي چي
هيڅ وخت به راټولي نه سي!!!

(c) ketabton.com: The Digital Library



دخبرو په ژورو کي په اند کولو او دپيښو په اره ريښه پسي ګرځيدلو سره، تاسو دځيرکۍ او ويښتابه درشلونه موندئ!

****

دمرغانو ښکلي غږونه،داوبو نرم او زړه ته سکون ورکوونکی غږ،دغرونو هسک او بې کبره سرونه،دراتلونکو هيلو په دام کي ګير هغه تنکی ګلاب،ستا دبريا څخه پريمانه خبرې داهرڅه ددې نړۍ ښکلاګانې دي!
کاڼه دي هغه غوږونه چي دتل پاتي خلاصونه غږونه نه اوري،
ړاندې دي هغه سترګې چي دلته هيڅ ښکلا نه ويني،
ناکاره دي هغه حواس چي دا هرڅه نه سي درک کولی!!!



(c) ketabton.com: The Digital Library



دنړۍ دټولو خوښیو څخه هغه خوښې ستره ده چې دسختې تندې څخه ورسته درنړو اوبو په خواکې ودریږې او دټل پاتې ژغورنې،خوښۍ اوبریا اوبه درته دهغه چا په لاس درکول سي چي نړۍ ته یې رڼا ګانې راوړي او ستا وجود یې ارزښتمن کړی دئ!!!!

****

که تا راته دټولو څخه ګران ونه اوسي
بیا خو به زه بدبخته یم!
ستا په مینه کي زما بخت،
سرلوړي او بریالیتوب دئ!
زه به ولي پرتا مئین ونه اوسم؟:
ستا ښکلا د لمر څخه ځلانده او دسپوږمۍ څخه ښکلې ده!!!!



(c) ketabton.com: The Digital Library



دتياروڅخه به هله ته راووځي:
کله چي دي زړه کي د رڼا مينه پيداسي،
ستا مينه او رڼا ته درسيدلوکلک هوډ به ډېر ژر تا دتيارو اوتور تمو څخه درڼا او روښنايې سمندرته ورسوي.
په هغه سمندر کي غوټه سه او دپريمانه روښنايې په مرسته ملغلرې لټوه.
***

کوم څوک چي ماته منې هغه برياته نه سي رسيدای،دماتي اوبريا په منځ کي توپير صبر دئ!
دچا چي باور کروړ وي هغه بريالی کيږي،
څوک چي باور نه لري هوډ دلاسه ورکوي او چاچي هوډ وبايله هغه هرڅه بايلې!

کله چي ژوند مو باشعوره او انديال پاته کيدل غواړي.
کله چي ژوندمو خوښ اوسيدل غواړي،.
کله چي هيلې مو پوره کيدل غواړي،
ولې دعقله باغيتوب غوره کړو؟
ولې انديالی څخه کرکه وکړو؟
ولې دځان لپاره د ناخوښه اوسيدو پريکړه وکړو؟
ولې پر برياليتوب باندي باور ونه لرو او دستونزو سره رخه او داميد سره دښمني وکړو؟!
ژوند دښکلا ګانو څخه پريمان،
دطبيعت دشور څخه شتمن او دستورو دوړانګو څخه ډک دئ!
موږ هله ستر تيروتنه کوو چي خپلې هيلې وژنو،غمونه پيرو او يادونه هيروو!!!!

(c) ketabton.com: The Digital Library



دسترګو کتل مو دومره کمزوري دي چې:
پوره مخلوقات نه سو پري ليدای خو :
ادعاکوو چې موږ پياوړي يوو،
غرور مو په اندونو اومغزونو کې واکمنې کوي!

*****

په هره زره خاوره زما دښواوبدو کړنو حساب په روڼ ډول ليکلی دئ،داچې زه يې نه وينم،نه په پوهيږم دا زما ناپوهې دتور هسک په شان ښکاره کوي!



(c) ketabton.com: The Digital Library



دخپل عقل دمزي دکروړ کولو په پار،
دمرغانو دخولو څخه ستا دستاينې دزمزمو داوريدلو ِحس ته تم يم...
هيله لرم دهغوئ دهر ويی،په مانا ځان پوه کړم اوستاسره؛
دمينې کولو په هڅه کي وړاندې ولاړ سم!

**********

کله چي يؤازي وي: نعمت در باندي نازل سو؛ هغه نعمت چي که موږ ګټه تري واخلو،منګولي پري ټينګي کړو ستر توب ته به ورسيږو،
يؤبل ته به زيان ونه رسوو،
يؤوالی به غوره کړو ،
يؤدبل سره به رخه نه لرو،
تل به بريالي يو،
ته به زموږ د سترې تندې په وخت کي داسي جام راکړي چي ټول دردونه او ستړياوي به مو ليري سي،
بيا به تنده ونکړو،
حتا تنده به لانه پيژنو،
دا به څومره لويه نيکمرغي وي چي ستا در شا ستا پر قدمونو دبيرونکي،
ډارونکي پله څخه په برياليتوب تيرسو او هغه بڼ ته ورسيږو چي ښکلا ته يې هيڅ بڼ نه سي رسيدای،
بختور به هله سو چي: ستا ګاونډيان يو...
څو مره لوی بختور!!!!
سلامونه درته ليږم ای زيری راکوونکي!!!!
سلام درباندي وايم!!!!

(c) ketabton.com: The Digital Library



غوښتل مې والوزم خو:
سختو اوسپيرو توپانونو مې ،
وزرونه تار تار کړه،
دکمزوري باز په پشان يې پرځمکه راوغور ځولم،
خو......
زه ماته نه منم،
وزرونه مي خپله ګنډم او دهسک سمته؛
دسپينې سپوږمۍ مخته؛
دغرونو پر سر الوتنې ته ځان تياروم،
غواړم دسيندونو ښکلا دهسک دلوري ووينم او د ښکلي ابد لپاره دسمندر څخه دالماسو په موندلو او راکښلوکي بريالى سم!!!!

1398/4/10



(c) ketabton.com: The Digital Library



موږ ډېرې هسکې هيلې لرو.
داسي هيلې چي کيدای سي
دهغوئ لاسته راوړل او ورته رسيدل دومره ارزښت ونه لري!
دهمدغو نه پوره کيدونکو هيلو له کبله،
زموږ زړونه بې سکونه او نا ارامه وي،
خپه يو،
خواشينوونکو اوزيان رسوونکو اندونو مو
دعقل پېري سوست يا شکيدلو ته نژدې کړي وي!
هو کله خو دبې ارزښت هيلو دپورا کيدا په پار ځانونه تياره او
زحمت ورکوونکو کوهيانو ته نژدې يا وار واچو،
ولې داسي وکړو؟
ولې سم او ژور اند ونه کړو؟
او ولې داسي ونه وايو؟
زه دلته څه کوم؟
زما دنده دلته څه ده؟
آيا زما داغوښتنه زما دسترې بريا لور ته غځېدلې نيغه لاره ده؟
آيا دا زما دنه زغمل کيدونکي تندې ځخه،دژغورنې هيله ده؟
که نه ده:بياولې زه دومره خفه واوسم؟
ولې مې زړه وزوروم؟
هو زه هرڅه لرم:
روغتيا،
خواړه،جامې او ستره معنوي ډالۍ:
هغه ډالۍ چي په ميلياردونو انسانانو کي زه ورته غوره سوی يم
دا هرڅه بس دي!
دا هرڅه پرما ډېر دي!
دا هرڅه چي زه يې لرم وړيې نه يم!

(c) ketabton.com: The Digital Library



ښه نو زه خپه ولې سم؟
ووایه زه ولې خپه سم؟
دروغتیا شتمنې لرم هغه شتمنې چې ډېروګړي یې په ارمان
اوښکې توې وي!
زه باید هیڅ وخت خپه ونه اوسم!
دا هرڅه چې ماته ډالۍ سوي زه یې وړنه یم!
زه باید مننه کوونکی و اوسم، نه ګیله کوونکی!
مننه کوونکی!
رښتنی مننه کوونکی!



(c) ketabton.com: The Digital Library



دښکلو او اړینو کتابونو لوستنه موږ لوړوي، داسي چي بریا ته موږ نه بلکي بریا موږ ته اړه کیږي او زړه راباندي بایلې!

*************

اړتیا نسته دوګړو دویښتابه لپاره سپک کوونکي وییونه وپېل سي:
امیل تري جوړ او دوګړو غاړو ته ور ولویږي، که داسي وسي یاد امیل به بې ځلا او ښکلا به یې ډېره نه لیدل کیدونکي وي!

**************

ستا یوثانیه ژونددومره قیمت لري لکه دټولې نړۍ ټولې خزانې اوټوله شتمني یا دهغې څخه هم خورا ډېره ګران قیمته ده،
یانې ته نه سي کولی دټولې نړۍ په سته شیانو یؤه شیبه وپیري ځکه ته په همدي ثانیه کي جنت ګټلي سي
اوپه همدي یوه ثانیه کي ته خپل ځان دد ورڅ داوسیدونکود ډلې څخه ګرځوي یاکولی سي!
توبه وباسه دالله جل جلاله څخه دخپلوګناهونو بخښنه وغواړه مرګ ستا انتظارکوي ته دمرګ یې اوته دمرګ څخه چاره نه لري!

************

خپل ربښتني هیله او موخه درهغو وڅاره:
ترهغو دي سترګي لیدل پریږدي؛ غوږونه دي اوریدل پریږدي، لاسونه دي پورته کول پریږدي، پښی دي دتګ کولوڅخه منعه سی اوتلل پریږدي،
هوډمن واوسه خپل موخه وټاکه او بریا ته ځان ورسوه!!!


(c) ketabton.com: The Digital Library



دشپې چوپتيا،دستورو شغلې، دسپوږمۍ خندانه څيهره، داوبو دشور موسيقي،دحشراتو سندرې او ستا يادونه دطبيعت ښکلاګانې دي!!!

******

ستوري شاهدان دي چي:
نوم دي دتيارو په منځ کي؛
دحشرو دغږونو دموسيقۍ سره يوځاى،
دزړه دتله زمزمه کوم اود سپوږمۍ لورته يې،
د مئينانو د قاسد په لاس ورکوم!!!!



(c) ketabton.com: The Digital Library



دژوند دخوښيو پيل او پای مې ستا سره تړلی دئ!!!!

**************

کله چي تا يادوم نه وايم چي خواکي مې نه يې: ته تل زما زړه کي ځای لري!!!!

************

کله چي ژوند مو باشعور او انديال پاته کيدل غواړي:
ولې دځان لپاره د ناخوښه اوسيدو لکبله د ژوند دتولو ښکلا ګانو،دطبيعت دشور او دسپوږمۍ دځلا څخه دعقله باغيتوب او داندیالۍ څخه تښته انتخاب کړو!

»»»»»»»»

اې دتور جامو خاوندې!
ستا د تورو جامو په ليدو زما د زړه تيارې لمنځه ځي :
رڼاګانې ورته را درومي؛کاش تل ستا مخته سرټيټي ولاړ واى او پرلپسي مې ستاخواکي دتل پاتې خوښيو،ارام اونېکمرغيو غوښتنې کولی!!!!



(c) ketabton.com: The Digital Library



دزړه آرام ستا په يادونوکي نغښتی دئ:
هغه زړونه سکون نه لري چي ستاښکلاګانې نه سي ليدای!
»»»»»»»»»»»»»»»»»»»»»»»»»»»»»»»»»»»»»»»»»

ګلونه دې ښکلا ته سلامونه وايي، مخ کي دې دنړی تللې او راتلونکي سپرلي را غونډ سوي دي!!!
*****************************************************

هغه ورځ به څومره نېکمرغه وي چي ته راڅخه خوښ يې او دخپل خوښۍ برى ليک مې راته دبريا په لاس کي راکړي،
زه به هله ښاد سم،
زه به هله رښتنی بريالی سم،
زه به هله ټول غمونه هيرکړم او تل پاتي سکون څخه برخمن سم!



(c) ketabton.com: The Digital Library



دهغه هيلو دپوره کولو سترړيا ګالم چي رسيدل ورته نا ممکن دي!

»»»»»»»»»»»»»»»»»»»»»»»»»»»»»»»»»»»»»»

سکون  ستا خوښي ده چي هغه وګړو ته ډالۍ کيږي چي ستا په ښکلا ګانو کي اند کوي!!!!

**************************************************

ځيني وخت الله جل جلاله ناروغۍ ددې لپاره درته را استوي چي دژوند په خوند پوه سئ!

»»»»»»»»»»»»»»»»»»»»»»»»»»»»»»»»»»»»»»

څوک خزان دي څوک غوړيږي ژوند همداسي تماميږي!!!

»»»»»»»»»»»»»»»»»»»»»»»»»

عشق دبربادۍ څخه ماسيوا بل څه نه دئ،عشق انسان ځوروي،سوځوي او ناکامه کوي يې!يادونه دميني اوعشق ترمنځ بايدتوپيروپيژنئ!

دنړۍ دخوښيو راز ستا په خوښي کي را نغاړل سوی دئ، بختور به هله سم چي ته راڅخه خوښ سي!

(c) ketabton.com: The Digital Library



هیڅ ښکلا،هیڅ رڼا هیڅ بریا نسته ټولې ښکلاګانې،ټولې رڼاګانې او ټولې بریا وې ستا سره موندل کیږي!

****

ما هوا ته خپل اهونه امانت سپارلي ترڅو درتا پوري یې سلامت در ورسوي!



(c) ketabton.com: The Digital Library



****

ستا دښکلا هومره ښکلا مې دنړۍ په هيڅ ښکلا کې نه ده ليدلې ځکه خو زه :
يؤازې ستا ښکلا ته ښکلا وايم،
نورې ښکلا وې راته بې رنګې او بد رنګې ښکارې

****

که دنړۍ ټولې ښيګڼې را غونډې کړو ديؤه بد ليدونکې زړه تسلا به پرې ونه سې!

***

دهغو تيارو څخه ډار نه لرم: په کومو کې چې ستا يادونه راسره مله وې!!!

****

هغه رڼا چې دټولو څخه ډېره ځلا لرې ستا دوينا راغبرګې سوې وړانګې دې!!!!

****

سکون څه دئ داچې دسپوږمۍ ښکلې مخ درته ښکلې ښکاره سې،
دګلونوخوشبو ښه احساس کړې،
دمرغانودزمزمو او د اوبو دشوره خوند واخلې،
دحشراتو ږغونوکې اند وکړې،
سپرلۍ درته په خپل رنګ ښکاره سې،

(c) ketabton.com: The Digital Library



ستړګې دې دلمرځلا روښانه وويني،
زړه کې دې ويره او هيله شتون ولري،
دسهار درنګينئ او ښکلا څخه خوند واخلي؛
هووو
داسي چي دناروغئ په بستر او درغتون په کوټه کې نه يې
پروت بلکي دښکلي شنه هسک ليدل دربانديي ښه ولګيږي؛
خوند تري واخلي،
وجدان دي ارام وي او دکوم چا سره دبدو کولو په ګردونو دي
دزړه کونجونه نه وي ککړ!
****

ما دي په ستاينو باندي دشعر ليکلو تکل وکړ خو اندونو مي هيڅ
وييونو ستا د نه شمېرل کيدونکو ستايونو لپاره ونه موندل،
ما وبخښه زما داند پېري دومره کروړ نه دي چي ستا په اندونو
کي الوتنه وکړم او ځان مې هيرکړم!



(c) ketabton.com: The Digital Library



ځيني موهيلې راسمسورې کړې،
اوځيني مودهيلو بڼ ته دخزان په شان راسي اودهيلوسمسورې،
زرغونې ونې مو راته خزان کړې.
****

دلته يؤزي توب نسته،
دا خفګان هيڅ دئ،
دا غمونه کوچني،
دا شتمني بې ارزښته ده،
دا ښکلا تاريکه ده،
داړغونه خوښي راوړنکي نه دي،
د اخوندونه ترخه دي،
داخښل مجبوريت دئ
بې کسي دماځيګر ده!
سترخفګان د چپه لاس دئ!
لوی غمونه په کنده کي دي!
ازښتمنه شتمنې دباورده!
اره ښکلا دلويې ونې دپانو ده!
ښه ړغ د اجازې دئ!
خوړ خوند داينې دئ او تنده ماتونکی څښل دحوض دي!!!

****

(c) ketabton.com: The Digital Library

| خوږې | خبرې |
|---|---|

زما دژوند ټولې خوښۍ تاپوري تړلي دي،
که ته راځخه خفه يې زه به هيڅ وخت خوښ اوبريالی ونه اوسم،
ستا خبرې مي خوښ ساتي،
خبرې دې دګلو څخه خشبو لرونکي او د کوثر داوبو څخه خوږې دې،
بريا پکښي نغښتي ده،
ژغورنکي دي،
دزړه ناروغۍ او خستګي مي ستا دخبرو په اوريدو لمنځه ځي،
په خبرو مي دي پوه کړه چي دنړيو نيکمرغيو ته ورسيږم،
پرما دي نظر وکړه چي ژوندونونه مې سم سي؛
مه راځخه خفه کيږي چي لولپه به سم،ماغزه او زړه به مې اور واخلي او په تل پاتيو تاريکيو کي به بند پاته سم!



(c) ketabton.com: The Digital Library



دګلونوسره مینه کوم،
دخوشبوښخه یې خونداخلم،
ښکلاته یې ګورم اوښکلاکې یې ژورآندکوونکی یم:
ترڅنګ یې داغزوپالنه هم کوم،
غواړم اغزن بوټي هم ګلونه وکړي!
***

قدمونه وړاندې ږدم،
تیارې دسپوږمۍ دښکلي مخ په لیدلو ورکې سولې،
ستوري راته نیغې خو ورکې سوي لارې ښیې،
زه هیله لرم بریالی خپل منزل ته ځان ورسوم!
*****

په هسک کې ستادمخ په انځورونوپسي لټه کوم،
ستا دخبرو وږمې مې د دردمن زړه پر زخمونو ملهم ږدي،
وړاندې ځم اوستا ګلونه قدمونه څارم، ښايي زه ستا په ښوول سویه لاره په ښه ډول لاړنسم:
خو هڅه کوم پرهمدې لارې بریالی خپل منزل ته ځان ورسوم!



(c) ketabton.com: The Digital Library



دستړیاؤ پنډمو اخیستی دهوساینې په لټه موپېښې دتنها کو ځځه پریمانه دي:
موږ ستړي یو،
خو هیله لرو تل پاتې خوښۍ او هوساینې ومومو!
*****

هرشپه مې آندونه ستا په نوم اوخبرو یادولو خړوبوم او هیله لرم چې خوب کې به ستا دښکلې مخه دښکلو وړانګو په لیدلو باندې سر لوړی سم!!!!
***

دخپل عقل دمزي دکروړ کولو په پار،
دمرغانو دخولو ځځه ستا دستاینې دزمزمو داوریدلو ِحس ته تم یم،
هیله لرم دهغوی دهر ویی،لغات په مانا ځان پوه کړم اوستاسره دمینې کولو په هڅه کې وړاندې لاړ سم!!!!
****



(c) ketabton.com: The Digital Library



که مې قلم درنګ ښخه پریمانه نه وي،
که مې کتاب اوکتابچه راسره ملګرې نه وي،
زه مي ځان داسې احساسوم لکه نړۍ چي راڅخه دتل لپاره جدا
سوي وي اوزه يې يوازې پريښې يم!
****

دتيارو ماښامونو په چوپتيا کي دنا اوريدلو کړيدلو غږونو
داوريدو په لټه دښکلي هسک ملغلرو رڼو ستورو ته په
ځيرګورم:
هوډمې کړی چي دهغوغږونو داوريدا حس ځان کي پياوړی
کړم،
کوم غږونه چي مغرورو اوځان خوښوونکي وګړي هيڅ وخت
نه اوري!



(c) ketabton.com: The Digital Library



دهغو وګړو ژوندونونه ښکلي او دبریا څخه پریمان دي:
کوم وګړي چي ستا دمخ دلیدو تږي اوستا دپلونو پرنقش خپل قدمونه ږدي!
««««««««««««««««««««««««««

څومره بدې دي هغه شیبې چي غماز مې په بې ارزښتو چارو اخته او ستا دښکلاو د ننداري څخه مې لیرې تاریکیو ته بوځي،
افسوس کوم په هغو بدرنګو،
خیالونو باندي چي ستا دښکلا حس پکښي نه وي،
افسوس خورا ډېر افسوس!
***********************************

هیڅ یؤه رښتنې هیله نیمګړې نه پاتیږي،
زیار هڅه،
غوښتنه او صبر دټولو هیلو پوره کوونکي نومونه دي!
*****************



(c) ketabton.com: The Digital Library



بختور دي چي دزړه په ګوټونو کي يې هروخت ستا ښکلی نوم شتون ولري،
څومره نيکمرغه دي هغه وګړي چي ستا دخوښې لپاره شيبې تيروي،
هغه څومره لوړ دي چي ستا لورته يې تل دسپيروخاورو په شان غرونه غوندي لوړسرونه ټيټ وي،
سلام دي پرهغو وګړو چي ستا ستاينه کوي او ستادوستانو ته سلامونه ليږي!

**************************

دا څومره ښکلاده چي په تا کي راغونډه سوي ده،
ستا دښکلا په پوهيدو اودليدو وګړي دنه زغمل کيدونکي تندې څخه خلاصيږي،
دمدو سټرياوي يې پای مومي،
په تاريکيو کي نيغه لار مومندي،دتل پاتي بربادونکي پله څخه په برياليتوب تيريږي،
خپلو لويو هيلو ته رسيږي او په ورستيو کي دتل پاتي خوښيو،سکون او تل پاتي ميني څخه برخمن کيږي،
هو ستا مخ ډېر ښکلی او ژغورونکی دئ،
داسي چي هيڅ توپان،
غم اودرد ،
غوسه اونفرت،
ناکامي اوماتي ستا ښه ليدونکو،
درک کوونکو اوستاسره تلونکو ته نه رسيږي!

(c) ketabton.com: The Digital Library



څومره بده ده چي انسان ددې ټولو نعمتونو سره سره شکر کوونکی نه وي،
زه هغه وخت حيران سم بيخې ډېر حيران چي کله يو روغ انسان هغه انسان چي الله جل جلاله روغتيا ورکړې وي ووايي:
زه خوښ نه يم او دا ژوند عذاب دئ،
دا بيخې ډېره بې انصافي ده،
دا بيخې ډيره ناشکري ده او دا بيخي لويه نا فرمانې ده،
که دنارو غانو دحال څوک خبر سي پر ژبه به يې تل يوه خبره روان وي شکرً يارب شکرً يارب!

*************

ستا دبڼ دونو څخه ګلونه اوريږي بختور يم چي ستا دبڼ په خواکې مې جونګړه جوړه کړې ده.
زه دپنځو ګلونو خوشبو خوښوم،
همدې ګلونه ورږمې دي چي زړه ته مې سکون ورکوي!

***********

ما دددې نړۍ دهرکانې بوټي او ذرې ته په غور وکتل درک مي کړل انسان دخپل جسم له اړخه ډېر کمزوری دئ مګر غرور يې هومره دئ چي: خپل لمنځه تلونکي بدن باندې دټولو ناتوانيو سره دخپل پيداکوونکی نافرمانې کوي!

(c) ketabton.com: The Digital Library



په تعجب کي یم
دژوند رنګونه ولې راته روښانه نه ښکاري،
زه ولي دطبعت دښکلا ننداره  نه سم کولی،
زه ولې دوګړو دخندا سره  نه خاندم؛
داسي خوبه نه وي چي ستا دښکلا دزندان په کروړ پنجرو کي
زنداني سوی یم؟
»»»
ستا په ښکلا مینیدل د بریا تکل کول دي،
خوستاسره وفا کول بریا ته رسیدل دي!!!!
**********

دهیلوسمندرکې ډوب،غوټه سوم،
سختوځپویې زما پرهرپرهروجود
دنامیدۍ ساحل ته وغورځوئ،
پوه سوم  په دې سمندرکي دملغلرو موندنه
تیږه وجود غواړي!



(c) ketabton.com: The Digital Library



ډيرافسوس؛ډيرافسوس پرهغې سختې شپې چې دخپلو روانو شپو څخه دومره تنګ سي چې ژوند کول درته عذاب ښکاري، هغه وخت چې يوازي يوه هيله ولري ددې نړۍ څخه ژر ستنېدلو هيله!
********************

وګوره کاينات ټول په درناوي ولاړ دي،
دخپل ورسپارل سويو کړنو نظم يوه ذره هم نه خرابوي،
که هغوئ خپلې دندې ته ژمن نه سي دنړۍ رڼا وي به تيارو ته ننوځي هغه تيارو ته چې رڼا يې روښانه کولو ته عاجزه ده،
موږ ولې نظم ته ژمن نه سو او خپل را کړل سوی کار په ښه ډول سرته ونه رسو،
غافله سو،
مخ واړو کيداي سي موږ هم هغې تيارې کندې ته وښويږو چې دځينو راوتل ناشوني او دځينو چې بخت ښه وي وبه ژغورل سي!
********

هغه چې دسپوږمۍ ښکلا،
دستورو ځلا،
دشپې چوپتيا باندي دې ښه پوهوي هغه دپوهې لټه او دهغې په سمندر کي لامبو وهل دي ،
موږ هله خپل دهيلو ساحل ته رسيږو کله چې موږ دکتابونو دپاڼو څخه جوړي نه ماتيدونکي ډېر کروړي بيړۍ کي دژوند سفر کووو دتل پاتي ژوند لپاره!

(c) ketabton.com: The Digital Library



خوښ سوم کله چي مي دونو ژړږ پاڼږ وليدي چي دونو د هسکه ځان مځکي ته په ارامۍ دتل پاتي هوساينې لپاره را رسوږ.
پرخپل برخليک مي وژړل اوومي ويل يا الله جل جلاله زما ابدي ارم ځای راته ښايسته اودهوساينې څخه ډک راکړي .
دانړۍ خودستونزوپه شتون کي تيريږي خواخرت دکړاونو په شتون کي نه تيريږي .
په دي ستره ازموينه کي مي بريا راپه برخه کړي!
********

ستاسو ژوند پر دېوال ځوړنده سوږ تابلو ده چي نورو وګړو ته هم خوښۍ او غم ورکول سي!
********

ځينې وګړي ددې سره سره چي شتمن وي خو زړه يې غريب وي، شتمن نه وي ،
ارښتمن هغه دئ چي زړه يې په معنوي ډول شتمن وي.
 پيسه لاسته راوړل کيږي خو دزړه شتمنې الهي ورکړه ده چي ډېر وګړي تري بې برخې دي.
 ارزښت بايد ظاهري شتمنۍ ته ورنه کړو اره شتمنې معنوي شتمنې ده!

(c) ketabton.com: The Digital Library



دنفرتونو پنډداوړی څخه کوز، کښته کړه
دورونېوترمنځ جدايي جلاوالي راوستوونکی مه جوړیږه.
دخپل ډیوې دښکلا نور رڼا چې څومره ستا سترګوته رسیږي
اوورته ځیر یې،
هومره دګاونډي دډیوې رڼا ته هم په پرانیستو خلاصو سترګو
وګوره!
دهغو لارو سمت لوري ته وګړي مه رابوله،
دکومولاروملاوي چې درخې،
کیني،بدی، نفرت، ګناهونو،
لکبله کږي سوي وي
دلته خپل تال وخت دګلونوپه پاللو کې تیرکړه اغزې هم دبیخه
مه باسه کاږه داغزوپیوندولو چل چم،
په ګلوباندي یاده زده کړه،
اوخپل شاوخو،چاپیریال دې دخوشبوڅخه پریمانه کړه،
دلته دمعصومو،بی ګناهو،مظلومو مرغیو ښکارمه کوه،
دپورې غره لویې سیني ته وګوره،
وګوره په څومره مینه وژنوکو زهري مارانوته یې خپل په سینه
کي ځای ورکړی دئ!
دهغه زړه خودتیږو ډبرو دئ!
ستازړه خودپستي نازکي غوښې څخه جوړ دئ،
ستا زړه کي باید دمهربانی چینې وبهیږي!

(c) ketabton.com: The Digital Library



د ډیورنډ کرغیړنه کرښه!
زما دهغو پولو څخه نفرت کیږي کومې پولې چي دظالم غماز او غدار خپل ترمنځ دهغوئ د ناپاکو لاسونو دپاکو قلمونو دزړه په وینو درنړو پاڼو پر ښکلي او بې داغ مخ په زور او جبر په هغه وخت کي کښل سوي چي:
دهغوئ دناپاکه وجود لاندې زموږ پاکې مځکې دخپلې دزړه دټوټې دبیلوالې په غم کي پر غلام او بادر لعنتونه ویل،
غرونه لړزیدل او خپل ترمنځ یې بیلوالی نه سو زغملی دا ځومره بده ورځ وه چي د نړۍ شرغوښتونکو او غلام ترمنځ پرموږ دبیلوالي او لیروالي پوله وتپل سول،
دا ورځ زموږ دجدایې،
لیراولي،
ورسته پاتي والي او بې شمېره دردونو او کړاونو دپیل ورځ وه،

لعنت پر هغو لاسونو چي زموږ دلیروالي په ورځ یې غرونه مات،
مځکه زخمي،
ګلونه خزان او زړونه اره کړل!

***

(c) ketabton.com: The Digital Library



بيله شکه هغه ټول دستايلو وړدي چي دخپلو حقونو ساتني ته دظالم پروړاندي رادانګي،
هيله لرم يؤه ورځ ټول لربر پښتانه افغانان دلوی افغانستان دبياجوړيدني ږ.غ اوچت کړي او دپنجاب څخه دافغانستان دبيلې سوي دزړه دټوټې دبيا پيوند غزل !!!!
زمزمه کړي

***

دخوبونو په ليدلو مي اند کوئ ټول رښتيا کيږ.ي،
خو خبر نه وم خوبونه يؤازي خوبونه وي،
دخوبونو رښتيا کيدل دغرونو سوري کول دي چي کلونه د سختو ډبر او ګارو ماتول غواړي،
لاسونه به دي تناکي سي؛
دبدن دژوندي پاتي کيدا جوهر به دي دخولو سره يؤځای په سپيرو خاور کي ضايع سي او در زحمتونو ورسته به غر سوری کړي،
همداسي خوبونه رښتيا کيږ.ي او سړی خپل ټاکلي منزل ته رسيږ.ي!
**********

زړه دمغزڅخه پوښتنه وکړي؟
ای! احسان هيرونکي زه تل ستاسره ملګری يم ته ولي زما ملګري نه کوي ولي مايوازي پريږ.دي؟
مغز دڅه شيبې لپاره چوف پاته سي،

(c) ketabton.com: The Digital Library

| | |
|---|---|
| خوږې | خبرې |

دخپل وفا دلیل نه سي ورته ویلی،
اوزړه هم نه سي قانع کولی،
دماغ وه زړه ته په خبروسي،
پیغور ورکړي ووایي:
زه یوازي دځان خوښي نه غواړم،
دي نړۍ کي یوازي زما خوښي نه ده!
دلته زما خوښی یوازي نه ده ارزښتمنه!
هغه ته یی چي یوازي ځان پیژني،
اونور درته هیڅ ارزښت نه لري،
زه دخپل ځان سره ددي نړۍ خوښي هم غواړم
خوته نه پوهیږي ،نه پوهیږي،
زه ستاسره نورملګري نه سم کولی،
ته خپل ځان پیژنه اوزه به نړۍ پیژنم!
بس زه جلایم اوته جلا!

زما اوستا خلقت توپیرلري!
********

---

دلته درنو ستورو رڼا څوک نه ویني وګوره ستوري دتیارو
رڼاکولو لپاره ځان،
سوځوي،
پرځان زحمت تیروي چي وګړي هغوی ووینې، دهغوئ
سرښندنه درک کړي،
خوافسوس خلک دهغوئ په درک اولیدلو کي سوستي کوي،
ځانته دومره زحمت نه ورکوي چي یؤار خپلې ناتونه سترګې
دهسک لورته کږي کړي،
ولې؟

(c) ketabton.com: The Digital Library



زړه بږنوونکي ده دکمزوري وجود لرونکي دغه اړ وګړي
ولې هسک ته نه ګوري،
ولې غرور کوي په داسي حال کي چي دهغوئ زړونه ديؤې
کمزوري وړتيا لرونکي دي چي دهغې په نشتون دوئ دخپلې
يؤې کوچنۍ برخې پرته دبيخې ډېرې مودې لپاره په هغه ګرد
بدليږي چي ذرې يې دنړۍ په ټولو برخو ويشل کيدلی سي.
افسوس داکړنه څومره بده ده!
يؤکمزوری څنګه دومره جورت وکړي!
***

دتاريکو څخه ستا درڼا لورته درمم:
هيله لرم دژوند په چارو کي دناپايانه رڼا ګانو ښارته بريالی
ستون سم!
***
هسک درنګينو وريځو په ننداره کې دمره بوخت دی چي :ماته
دسپينې سپوږمۍ ددیدن خيرت نه راکوي!



(c) ketabton.com: The Digital Library



ساګانې مې ستا ياد را تازه کوي!!!!
خو احسان هيروونکی زړه مې کله کله ستا دستاينو څخه غافله وي!
***

ستا يو کاته ماته ددې نړۍ دربلي هرخوښۍ ډېر ارزښت لري!!!!
****

دستړياؤ پنډمو اخيستی دهوساينې په لټه موپېښې دتنها کو څخه پريمانه دي،
مور.ستړي يو،
خو هيله لرو تل پاتې خوښې او هوساينه ومومو!



(c) ketabton.com: The Digital Library



زه دګلونو دښکلا څخه ستا ديادنو اميلونه جوړوم،
خوشبويې ماته ستا د اندونو دخپلولوسمت ته رابول!
***
دژوند دکړاونو اوستړياو څخه دسکون احساس هله وکړم:
کله چي ستا ارام بخښونکی نوم خپل زړه کي زمزمه کړم!
***
ستا دمخ رنګينو وړانګو خو ټوله نړۍ نيولې ده،
بدبخته هغه وګړي دي چې دا ښکلي وړانګې نه وينې،
تياروکې ورڅخه ګټه نه اخلي او ړانده دي!
***
ستا دمينې په سمندرکي دومره غوټه سوی يم چې ستا الماس
يادونه مې اوس نه پريږدي چي ساحل ته ستون سم!
***

دونودپاڼوسره
لګيدونکی شمال،
دآسمان په مخ کې ځليدونکي ستوري دشپې په دې تياره کي
دغرونودځوکو څخه دوحشي ژوو اوازونه دنباتاتو په
پاڼواوساقوباندي اوريدونکی شبنم،
د زرغونوبڼونودونودبيخونوڅخه دچرچرکو زير ږغونه،
په دې تياره کې هرګړندی اهتزاز ددې خړې ځمکې دپاسه
دتکوشنو اوبو زړه راکښونکی شورهار،
دژوترمنځ يوبل سره دخپل ستړي اوخوشحاله ژوند کيسې،
دها خړپړ کورپه غولي کې دژړيدونکي ماشوم ژړا،
په خوارږه خوب ويده ددې پوري مقبري مړي،
دها حجرې په تخت ويده نا خبرځوان،

(c) ketabton.com: The Digital Library

خوږې خبرې

ددې شين چمن په منځ کې دسپيره پټکي دڅيرو ځپلوي خاوند دخيال په نيلي سپور زلمی،
داهرڅه ددې طبعت ځانګړتياوي دي!
دا طبعت ښکلی دی!
داتخيول پيچلی دی!
دا اوازونه هريو دېرڅه وايي!
داهيلې ژوندۍ دي!
داځمکه توپاني ده!
دا اوبه خوټيدونکي دي!



(c) ketabton.com: The Digital Library



هغوچې ځان ته دخوبونومانۍ جوړې کړې وې همداسې
دخوبونودماڼيو په تمه تمه په دصحرا په توند اوسوځونکي لمر
کې خوب وړې پاته سول!
چاچې دجونګړې دودانولولپاره لرګي اواغزي راغونډول پيل
کړي وه :
هغوې اوس دخپل جونګړې په يخوسيوروکې آرام کوي!
************

دبې علمۍ څخه داسې تښتم لکه څنګه چې:
دسمندر په منځ کې دبيړۍ څخه لويدلې انسان دخپل مرګ څخه
په تښته کې وي!
*****

داغزوکښت مې وکړ دزړه په مينه مې سپينې خوړ.و اوبو باندې
خړوب کړل،
زرغونه سول،
دګلونوپه ليدلو يې زما زړه دخوښۍ څخه ټوپونه ووهل:
ګلونه يې نرم اغزې وکړل،
هغوی زما لاسونه نه ژوبلول پيل کړل:
هوو!
زه خبر نه وم چې:
داغزو کروندګر لاسونوبه تل په وينو سره وي اوتل به دخپل
کرلې کښت څخه ورسته دڅه مودې دخوښۍ:
خفګان وينې!!!

(c) ketabton.com: The Digital Library

خوږې خبرې

دتيارومابښامونوپه چوپتيا کې دناواوريدلو کړيدلو غږونو داوريدو په لټه دښکلي هسک ملغرو رڼو ستورو ته په ځيرګورم:
هوډمې کړی چې دهغوغږونو داوريدحس ځان کې پياوړی کړم،
کوم غږونه چې مغرورو اوځان خوښوونکي وګړي هيڅ وخت نه اوري!



(c) ketabton.com: The Digital Library



دغرونو هسکو، تیرو څوکو ته دخیال په ټال کې ځانګم،
آندوړی یم او غلی یې دیدن کوم،
اندم :غرونه دخپل هسکوالي په شتون کې دغرور اوځان ښودنې هوډ نه لري،
هغوی تل پاتي چوپتیا او سکون څکه غوره کړي دي،
څکه چې هغوی نه غواړي په خپلو بم غږونو دوګړو غوږونه ورکاڼه کړي هغوی درک کړې ده چې زموږ خبرې به هیڅ وخت داوګړي وانه وري،
څکه داوګړي دومره په خپلو چارو کې بوخت دي چې دځمکې دخبرداري غږونه نه اوري،
هغوی غرور کوي اودوخت تیز تګ ته هیڅ غوږکوونکي نه دي!
داوګړي دهسکو غرونو کږو ملاو ته نه ګوري چې دتېږو توپانونو لکبله یې ملا وي ماتې سوي دي،
خوبیا هم دې هسکو غرونو یؤ اه هم نه دی کړی،
چوف دي،
زغم اوصبریې په خټه اخښل سوی دی.
داهسک غرونه دومره عاجزه دې چې حیواناتو ،نباتاتو،حشراتو ته یې خپل پر ښکلي بدن داوسیدو ځای ورکړی،
هغوی دخپل هسکوالي او کروړولي په شتون کې بیا هم ددې کمزورو بدن لرونکو په وړاندي کوم بدغبرګون نه دی څرګند کړی !
وګوره!
هغوی دغرور په نوم کوم څه نه پیژني!

(c) ketabton.com: The Digital Library



قدمونه وړاندې ږدم:
تیارې دسپوږمۍ دښکلې مخ په لیدلو ورکې سولې،
ستورې راته نیغې او ورکې سوې لارې ښیې!
زه هیله لرم بریالی منزل ته ځان ورسوم!

***********

په هسک کې ستاښکلا په سې لټه کوم!
ستا دخبرو وږمې مې د دردمن زړه پر زخمونو ملهم ږدي !
وړاندې ځم اوستا ګلونه قدمونه څارم،
ښایي زه ستا په ښوول سویه لاره په ښه ډول لاړنسم خو:
هڅه کوم پرهمدې لارې بریالی خپل منزل ته ځان ورسوم!



(c) ketabton.com: The Digital Library



که غواړو دوګړو دځهرو ښکلا په ښه ډول ووینو،
دخبرو په خوږوالي يې پوه سو،
وپوهيږو هغوئ زموږ څخه څه غواړي او موږ ته باید هغوئ
څومره درناوی ولري،
سترګې مو باید ښکلالیدونکي او
پلټونکی وي،
خبرې مو بریابلونکی
خوږې او پریلل سوي وي،
مغز موباید ویښ،
موندونکی،
هر اړخیز پریکړه کوونکی وي او خپله درناوی کوونکي
واوسو.



(c) ketabton.com: The Digital Library



کله چي زه دقلم درناوی ونه کړم:باید دهیڅ درناوي هیله ونه لرم، قلم دپوره درناوي وړ دئ خو افسوس موږ هغه ته درناوی نه کوو، په پاکو وینو یې دوګړو ژوند، روان، او احساتو ته زیان رسوو، دا ځومره بده ده چي دقلم په پاکو وینو دپاڼو پر بې داغو پاکو بدنونو باندي بد لیکو ،هوو دا ډېر او بیخي ډېره بده،نه مننونکي،زیان رسوونکي او بربادونکي کړنه ده، که څه هم زموږ ژبه ښکلي نه وي خو دقلم ژبه ډېره ښکلي،احساسات یې نازک، سترګې یې ښائیستې او بدن یې پیاوړی دئ،موږ باید دهغه ژبه بدویونکي، سترګې یې بدرنګي؛احساسات یې مات او بدن یې کمزوری نه کړو!
لیکل به وکړو، ښکلي، ګټور، ویښوونکي، لاره ښوونکي، هیله لرونکي، موخه موندونکي، بریاته رسیدونکي، پاک او دحوس په او بو نه پریوللې لیکل،ځلانده او بریښیدونکي لیکل، هسک ته بلونکي لیکل، موخو ته رسیدونکي،وفالرونکي او درښتیا په رنګ رنګ سوي لیکل......
هو دا دقلم درناوی، مینه او حق دئ!



(c) ketabton.com: The Digital Library



**Get more e-books from www.ketabton.com**
**Ketabton.com: The Digital Library**